# د سائیں کمال خان شېراني
# د یو مضمون تحقيقي او تنقيدي څېړنه

Individual Character and national strength in the view of sain Kamal Khan

بلقيس شېراني*

**Abstract:**

Sain Kamal khan a true well wisher of Muslims. A great person sain Kamal khan is considered a pioneer of " Independence Democracy" who beloved on strength of unity.in this paper the Authores describes the broad vision of sain Kamal khan Believed that INDIVIDUAL is like a back bone of a nation .An INDIVIDUAL can bring a whole nation on a one platform and as a whole strength can make a place on a world level, because one person can change the world A good way to change someone's attitude is to change your own.........because the same sun that melts snow also hardens the clay.

په 1941 ء کښې شېر اویا کاله مخکې له ړوبه پېښور ته یو شېراني زلمی د علم زده کړه کولو لپاره راغی او د علم او ادب او ذوق په مرکز کې له پوهانو سره کښېنوست.ده له ړوبه حساس زړه ، روڼ دماغ او زیرک ماغزه ورسره راوړي ؤ.دی د شېراني د مهيج روح او طربناک زړه نمائنده ؤ.د د ځلمیتوب وخت د "کسې غره" شادابو لمنو کې تېر کړی ؤ.د ړوب روح بخشه هوا ئي تنفس کړې ؤ، د ښېین په سپېځلو رغو کښې ګرځېدلئ ؤ.

د شېراني د سیمي دا زلمي ډېر ژر د پېښور په علمي حلقه کې پېژند ګلوي پېدا کړه او د دې علمي حلقې څخه یې خپله علمي تنده خړوبه کړه. دا رنګه ې په خپل کالج کښې نه دا چې نوم پېدا کړی بلکې یو علمي او رهنمائي طرز ژوندی هم خپل کړی او هر محفل ته به ئې رڼا ورکوله د قام درد ې په زړه کښې ؤ زکه خو ئې په هغه وخت کې مضمون ولیکی

"د ملت په جوړولو کې دوګړي کردار"(**Individual Character and national strength**)

زما د دې تحقيقي مقالې بنیادي موضوع هم دا مضمون دی چې سائیں کمال خان لیکلی ؤ

* M.phil scholer Pashto department UOB

دا مضمون ې د خېبر مجلې لپاره لیکلی ؤ. ډاکټر واحد وائي؛ چې د سائیں کمال خان شېراني دغه مضمون د دویم جهاني جنګ په وخت کښې د اسلامیه کالج پېښور څخه د خپرېدونکي مجله خېبر د جنوري **1944** ء کال په ګڼه کښې خور شوی ؤ "

چې مونږ به دلته پر دې خبره کوو دا ټول مضمون د یو وګړي پر کردار لیکل سوی دی.لومړی به دوګړي پر کردار او شخصیت باندې خبره کوؤ ځله چې د شخصیت اثرات پر کردار زیات وي.

**شخصیت**:.د انسان شخصیت هغه که ظاهري وي که باطني ،د اکتسابي او غېر اکتسابي خصوصیاتو مجموعه ده.غېر اکتسابي خصوصیات هغه دي چې براه راست د الله تعالیٰ له طرفه ورکول سوی وي لکه رنګ،نسل،شکل او صورت،جسماني ساخت ،ذهني صلاحیتونه او داسې نور شامل دي.اکتسابي خصوصیات هغه دي چې انسان یه یا خو په خپله ځان کښې پېدا کوي یا یه له ماحوله اخلي .دی چې کوم هنر تر لاسه کوي یعنې زده کړه کوي دا ته اکتسابي عمل ویل کیږي .دا دواړه خصوصیاتو ته په وده ورکولو کښې ښه شخصیت جوړ ېدائي سي. د شخصیت او کردار جوړول د اسلام بنیادي موضوع ده ،هم دا موضوع الله تعالیٰ چې خپل هدایت د انبیاء کرام په ذریعه دنیا له رالیږلی دی .د دې بنیادي مقصد د انسان شخصیت سازي او کردار سازي ده په دې اړه سائیں کمال خان په خپل مضمون کي لیکي.

Whenever man tries to trace the cause of a certain effect in nature, he usually picks up one of its many antecedents which has a more dominant appearances than others and calls it “the cause”. The remaining antecedents are then clean forgotten. For Example: a man’s foot slips on a leader he falls down and is killed. His death will be ascribed to slipping. Take another instance the success of a political movement is supposed to be due to the personality of a great Leader. This may be partly true but it is not the whole truth. In the same manner material resources large scales industries, well equipped armies, etc are considered to be the causes of national strength and prosperity. Obviously this is again a case of over simplifying the matters. A deeper insight into the real causes of national strength and prosperity will show that although factors like material resources are necessary for the strength of a nation, Yet if the individuals_ the stuff of which the nation made _ have a low moral character the material factors by themselves will not make the nation great and strong nor save it from destruction After all, a nation is but the sum otal of all the individuals occupying a territory. Consequently, the quality of a nation will be judged by the quality of its component parts _ the individuals, We can never think of a building holding out against the ravages of weather for a long time if it is constructed of shoddy material. The strength and durability of everything depends upon the stuff of which it is made. We don’t find any example of a nation or

civilization to have existed for a considerable period with individuals of a low moral character.(1)

**ژباړه**:دوګړي په توګه چي انسان کله هم په فطرت کښې درامېنځته کېدونکو مظاهرو د علت د لټون تکل کړی دی نو وګړي هغه تر ټولو غالب او دعینیت له رویه اغیز مند اثر د ځان لپاره مقدم ګرځولي دي،او دې ته ئې د (علت) نوم ورکړی دی او رامېنځته شوی نور مظاهر ئې بېخي هېر کړي او له حافظې ایستلي دي.لکه کله چي یو کس د زینې له پوړۍ را خطا شي او مړ شي نو د مرګ علت به یې د پښې خطا کېدل ګڼل کیږي او یاد یو سیاسي نهضت د بریالیتوب علت د هغه رهبر لوئ شخصیت ګڼل ،زه په دې عقیده یم چي دا به ترځه حده سهي وي خو بشپړ رښتیا نه شي کېدلائ هم دې ته ورته استدلال دا چي مادي شتمني،ده لوړي کچې فابریکي او وسله واره فوځ د یو ملت په توانګري(قوي) او سوکاله ژوند په رغولو کښې مهم رول لوبوي.هو زه هم په دې عقیده یم چي دا درې واړه عناصر د ملت دتوانګري او سوکالي د پاره اړین دي.خو خبره دومره ساده هم نه ده او باید و دې ته ژور عقلي علتونه درک شي هغه دا چي وګړي د ملت په جوړېدو کښې د ښتي حېثیت لري که دوګړي د اخلاقي کردار سویه ټېټه وي نو ملت به ئې هم بې عظمته وي دا په دې چي دوګړي ټولنه او ټولنه ملت تشکیلوي او دوګړي انفرادي کردار اجتماعي کردار جوړوي.نو لازمه ده چي دوګړي په کردار سازي باندي پام لرنه وشي دا په دې چي وګړي د ملت ترکیبي جز دی او دوګړي اخلاقي کردار سازي که ونشي،یوازي مادي اسباب نه خو ملتونه سر لوړي او توانګر کولی شي.او نه یې هم له تباهي او فناکېدو ځخه ژغورلی شي دا په دې چي له بې کېفیته توکو جوړ عمارت به تر ډو د زمان د سختیو او طوفان مخته تم شي ولي چي د هر تعمیر د پائیداري ضمانت د هغه د جوړېدونکو توکو په معیار پوري اړه لري هم دا رنګه د کوم ملت او تهذیب وګړي چي ټیټ اخلاقي کردار ولري،هغه ملت او تهذیب تر ډېرې مودې ځان له فنا کېدو نشي ژغورلی.

د سائیں کمال خان دا طرز تحریر تاسي وګوری چي د کومي درجې دي او کومه خبره کوي او په څومره لوړ استدلال ې کوي.افلاطون چي هم کله د قامي رغښت خبره کوي نو انسان کردار سازي په نظرئې ساتي هم دا رنګه قران پاک پر دې زیات زور ورکوي.له دې ځخه د سائیں کمال خان د مطالعې اندازه کیږي چي هغوی څومره ژوره مطالعه درلوده.په شلن کلني او شا او خوا عمر کښې دی دا مضمون لیکي چي د ده علمي سویه موږ ته په ګوته کیږي دی د وګړي اهمیت پېژني.ټولنه دوګړي د وجود له مجموعې ځخه جوړه ده.په ظاهري توګه د ټولني د مضبوطېدو وجه مادي وسائل وي خو

سائیں کمال خان دا وجه دوګړي وجود بولي.دا وجود د ټولني د مضبوطېدو وجه هله جوړېدائي سي چي ښه تربيت ولري ښه شخصيت سازي به وسي.که هغه د وخت د حکومت له خوا وي يا مور او پلار له روزيني وي او يا دا استاد له تربيته وي.لوړ کردار دوګړي ضرورت بولي. ښه کردار د انسان د انسانيت د تقدس غوښتنه ده. سائیں کمال خان پخپله ټولنه کښي د انصاف،مساوات او د انسان د انسانيت د تقدس غوښتنه کړي ده.چيري چي سائیں کمال خان د انسان او انسانيت غم خوړلی نو ورسره د خپل قوم او ملت د ويښتيا او پر مختيا تد بيرونه هم په نظر کښي ساتلي دي.لکه چي علامه اقبال وائي.

"خام ہے جب تک تو ہے مٹی کا اک انبار تو

پختہ ہو جائے تو ہے شمشیر بے زنہار تو"(۲)

وګړئ د ملت فکري،تخليقي او تهذيبي قاعدو ساتندوئ وي لکه چي سائیں کمال خان وائي

"If a nation wants to have a place in the world__ order where only the fittest survive it must before procuring the material requisites of greatness make its individuals moral. Only than will the nation as a whole as a unity be able to achieve success,By emphasising individual character do not mean to under- rate collective spirit. On the other hand I believe that the individuals in addition to being honest, brave, stead-fast unselfish, truthful , determined __ possessors of all the moral quality necessitated by the nature of the national cause should have a sense of solidarity for a sense of solidarity is also a necessary ingredient of the individual moral character. My real point therefore is that the moral character of a few leaders by itself cannotbring success to a nation . For instance the prominent Indian leaders of the day may have a very high moral character but if we desire national strength and prosperity every one of us must have the moral qualities of our leaders".(3)

**ژباړه**:.که يو ملت غواړي چي د سيال قامونو په قطار کښېږي ودريږي او د نړېوال حاکميت له برخي برخمن شي نو لازمه ده چي د مادي پر مخ تګ د تر لاسه کولو له مخه د خپلو وګړو په انفرادي کردار سازي باندي کار وکړي،هم دغه د ملي عظمت لومړی ضرورت دی.د دې ضرورت د پوره کېدو سره بيا هله يو ملت د ملت په توګه يو والی او کامراني تر لاسه کولای شي.د وګړي پر انفرادي رول (کردار) له ډېر تاکيد څخه زما مطلب دا نه دی چي زه اجتماعي،ملي روحيا له پامه اچوم بلکې زه خو په دې عقيده يم که يو وګړي سره له دې اوصافو چي دی ايمانداره،ريښتنی،ثابت قدمه،زړه ور،له ذاتي غرضه پاک او له ټولو اخلاقي اوصافو برخمن وي او هم دغه وصف کوم چي د يوملي ارمان لرونکي انسان په فطرت کښېږي وي. وګړي ارو مرو د يوالی جذبه لرونکی وي کوم چي په

خپله د يو فرد د اخلاقي کردار مهم جز دی. اوس زه خپل مطلب ته راګرځم هغه دا چې ايا يو څو دلوړ کردار خاوندان ملي رهبران په يوازې سر قام د بريالیتوب منزل ته نه بيي رسوالی د مثال په توګه د هند د هغه وخت نامتو ملي رهبران کوم چې د ډېر اوچت کردار څښتنان وو که چیري موږ غواړو چې زموږ ملت قوي او پر مخ تللی وي نو لازمه د چې د ملت هر وګړی يه ځان کښې د خپلو رهبرانو په شان لوړ اخلاقي کردار ولري".

سائیں د يو داسي قام وګړی دی چې هغه د محرومیت کندي ته لوېدلی دی ځکه سائیں کمال خان د انسانیت د احترام او عزت خبره کوي د خواري کښو او ځپلو طبقو محرومي ختمول اودوی په ذهني طور له محرومی ساتل د شخصیت سازي برخه ګڼي سائیں کمال خان د خلګو پام د انسان اقتصادي او معاشرتي پر مخ تګ په لور راګرزوي او يوه داسي ټولنه په وجود کښې راوستل غواړي چرته چې انساني وقار او انساني عظمت قائم و دائم وي.دا هر څه ده د ترقي پسند فکر له کبله دي.دا درس د ټولني هر هغه سړي ورکړی دی څوک چې د ټولني نباض دی په هم دې حواله علامه اقبال دا درس په دې ډول ورکوي.

" پھونک ڈالے یہ زمین و آسمان مستعار

اور خاکستر سے آپ اپنا جہاں پیدا کرے"۔(۴)

د دنيا ژوند مادي دی نو د دې ترقي هم د مادې سره تړلې ده.څومره چې انسان په مادي حواله پر مخ تګ کوي يعني مادي وسايل په لاس کي لري هغومره د يو وګړي د اخلاقي برخه جوړول هم ضروري وي،دی ليکي.

"The leaders of any social organization, or program or philosophy, do not remain contended with the fact that they have enough of material resources and a good system or regulative laws and principle. They know that the real force which put into practice those laws and principle and which makes use of material resources is man: and not a more man but a man of good moral characters whatever the type of government be it democracy, dictatorship or socialism, it is not due to its principle laws and theories alone that it is successful: its success is principally due to the moral characters of the individuals who translate those laws and theories into action. In practical world it is not the laws and principles underlying one system of government which fight against the laws and principle underlying another, but the individuals who accept those laws and principles. Consequently, it is for the individuals to determine the fate of a nation. Like individuals nations also have to struggle for existence and it cannot be denied that “the crucial test of a nation, as of an individual, is its conduct under hardship and adversity” in such a struggle as this each individual’s moral courage determination, patience to bear hardship and hope to conquer firmness belief in the national cause and readiness to sacrifice his all for

its sake severely tested it is, thus, in the hands of individuals to make or mar the nation"(5)

**ژباړه**:.د هر ټولنیز سازمان، پروګرام لرونکو او پوهان په دې قانع دي چې برسېره پردې چې ښه ډېر مادي وسائل او ښه انظباطي قوانین او اصول ولري خو دوئ په دې عقیده وي چې د دا ټولو قوانینو ، اصولو او مادي وسائلو د عملي کولو د پاره انسان ته اړتیا ولري بايدد لوړ اخلاقي کردار څښتن وي .بلـه خوا ته موږ وينو چي هر ډول حکومت هغه که جمهوريت وي که امريت او که سوشل ازم وي، يوازي په دې کاميابي نشې موندلی چې ښه قوانين او اصول ولري بلکې دا په دې بريا موندلې شي چې دا قوانين او اصول په عمل کښې راوړونکي وګړي د لوړ کردار خاوندان وي، نو هله دا قوانين او اصولونه ټولنې ته د منولو وړګرځېدلی شي. بل دا چې د قام وګړي چې د هر ناورين د زغملو توان لري،مبارزه کولې شي او د ملي کاميابي د لاسته راوړلو يقين لري،هم دا وګړي هر وخت د باشهامته ملت د جوړولو لامل ګرځېدلی دی او هم ګرځي ځکه خو دا ويل کيږي چې افراد هم قامونه جوړوي او هم قامونه برباده وي.

د ملت په جوړېدو کښې د وګړي اخلاقي کردار بنيادي دی .له وګړي څخه مراد خوار،مزدور،زيارکښ يا د عام اولس وګړی نه دی بلکې ټول انسانان دي.دی دغه ټول په دغه تله تلی که هغه بادار وي او که حاکم.زور آور وي که شتمن اصول او قوانين جوړونکی وي که پېشونکی بايد چې د لوړ کردار خاندان وي لکه چي اقبال وائي.

"افراد کے ہاتھوں میں ہے اقوام کی تقدیر

ہر فرد ہے ملت کے مقدر کا ستارہ " (٦)

لوړ کردار د ښه شخصيت نتيجه وي پر شخصيت باندې چاپېريال،ژبان،کلتور او ټولنه زيات اثرات لري.

" جب ہیرے کو کان سے نکالا جاتا ہے تو یہ محض پتھر کا ایک ٹکڑا ہوتا ہے ایک ماہر جو اسے تراش خراش کر انتہائی قیمتی ہیرے کی شکل دیتا ہے۔انسان کی شخصیت کو بھی خراش تراش کر ایک اعلیٰ درجے کی شخصیت بنانا بھی اسی قسم کا فن ہے "(٧)

د وګړي د حېثيت خبره دې خلګو د عمر د تجربې په رڼا کي کړې ده خو سائيں کمال خان دا خبره په نوې ځواني کي کوي چې د ده نابيغتوب ښکاره کوي.

"The present war with all its horror and disasters has taught many useful lessons to a forgetful humanity. The most useful of these is the reminder that individual character is one of the most important factors in the successful prosecution of a war. Superficial minds call this war of resources, factories and materials. But we have seen that Italy had a well organized form of government, large scale industries well cqipped armies and other material requisites which are regarded as the foundation of a nation’s strength. But she collapsed and even the powerful support of hitlerite

Germany could not save her from destruction. As long an Mussolini was successful the Italians helped him. But when the Allies threatened them and bombed their cities constantly their moral collapsed and with it the fascist State. The Italians lacked not so much in material resources as in those moral qualities which are absolutely necessary for the strength of a nation. Hence their failure. The same was the case with Iran. The mere threat of attack by the allies demoralized the Iranians and they surrounded pracally without firing a shot. It may he said that Iran could not fight against such heavy odds, but subsequent even showed that the Iranians did not even try to fight"(8)

**ژباړه**:روان دويم جهاني جنګ که يو طرف ته خوف او وېره خوره وله خو بل طرف ته يې د غفلت په خوب ويده وګړي دې ته وهڅول چې له دې جنګه ډېري ګټورې زده کړي وکړي چې يوله مهمو زده کړو يې دا ده چې د جنګ يا جګړې په بريا کښې د فرد د کردار ځانګړي رول لوبوي.د سطحي نظر خاوندان و دې جګړي ته د وسائلو،فابريکو او مادي شتمنو جګړه وائي لاکن موږ وليدل چې اټاليا يوښه منظم دولت درلود ،ډېرې فابريکې او مجهذ فوځ يې درلود او پردې سربېره بې هغه ټولي مادي شتمنۍ هم درلودې کوم چې د يو قوي ملت په تشکيلولو کښې اساسي رول لري خو اټاليا په جهګړه کښې ماته وخوړه او نسکوره شوه .ان تر دې چې د جرمن هټلر غوندي زورور قوت يې ملا تړې وو خو بيا يې هم اټاليا له تباهي نه وژغورله .تر څو چې مسوليني مخ پر برياليتوب وو د اټالياولس د ده مرسته کوله خو کله چې اتحاد يې فوځ د اټاليا په ضد د جنګ ډګې ورکړې او د دوئ پر ښارونو پرله پسې بمباري پېل کړې.نو د اټاليا د خلګو ملي روحيه ماته سوه او د مسوليني فاشستې دولت له ماتي سره مخامخ شو. که څه هم د اټاليا وګړي په مادي توګه شتمن ؤ خو د کردار سويه يې ټيټه وه همدغه ځانګړي علت ،چې د وګړي کردار سازي د ملت د قوي توان لپاره په حتمي توګه ضروري ګڼل کيږي.دې ته ورته لوبه له ايرانيانو سره وشوه کله چې اتحادي قواوو د بريد وړه غوندي ډګه ورکړه.له دې سره سم د ايرانيانو مورال له خاورو سره خاوری شو،وسله يې وغورزوله او د هيڅ قسم مزاهمت جوګه نه شو. د يو وګړي د شخصيت په صفاتو کښې ،ذهانت ،قوت برداشت ، ذهني پختګي ، احساس ذمه داري ،قوت ارادي ، خود اعتمادي ، شجاعت و بهادري ، انصاف پسندي او اخلاص او داسي نور شامل دي".

که دوګړي په شخصيت کښې د دې يوه کمی پاته شي نو دی د ټولني په جوړېدو کښې ښه کردار نه شي لوبولای. سائيں کمال خان د هر وګړي په شخصيت کښې هغه ګوهر ليدل غواړي چې له وېري او او ترهې خلاص وي ،الله پاک هم په قران پاک کي

انسـان تـه دا درس ورکـوي چـي تاسـو د هيچـا وېـره مـه کـوی بـې لـه مـا ، ځکـه چـي هغـه تـه د انساني کردار کمزورياني معلومي دي. په دې اړه خوشحال وائي.

اهل شرته د شاهين منګول پېدا کړه
اهل خېرو ته حليم شه تر کمانه (۹)

سـائيں کمـال خـان دا فکـر لـري چـي يـو ملت پـه مـادي توګـه هـر څومره شـتمن وي خـو کـه دوګـړو د کـردار سـويه يـه ټيټـه وي نـو هغـه ملت لـه تبـاه کېـدو څوک نـه شـي ژغـورلای. سائيں کمال خان وائي.

"There is vivid contrast between these two countries on the one hand and Great Britain and Germany on the other. The letter have been bombing each other for four years, but each air raid makes their people more determined. Whatever we may think of the British imperialism we have to acknowledge the fact that the British people possess those moral qualities which are necessitated by the spirit and nature of their national cause. They are loyal to their leader and country. They are confident it of themselves. They have a firm belief in their national cause and are ready to make sacrifice for it. In the same way whatever people may think of Nazi-ism and Hitler, the bravery and courage of the Nazis cannot be denied. They possess those moral qualities which are necessary or making a nation great.I must reiterate that it should not be understood that material resources do not contribute to national strength and prosperity, Material, Resources, are also necessary for the strength and prosperity of a nation, but since the individuals of a nation have to use and handle those resources, the fate of the nation largely depends upon the individual's moral character". (10)

**ژبـاړه**:بلـي خـوا تـه د برطانيـه او جرمنـي تـر مـنځ ځـانګړي تـوپير د ليـدلو وړ دی.دواړو پـر يـو بـل بانـدي څلـور کالـه پـر لـه پسـې بمبـاري وکـړې.خـو د وګـړو اسـتقامت يـې لـه هـر هـوائي بريـد سـره لانـور هـم توانمنـد کېـدی مـوږ کـه برطـانوي سـامراج تـه پـه هـر نظـر ګـورو خـو دا خبـره حقيقـت ده چـي د برطـانوي وګـړو پـه کـردار کښـې هـر هغـه د قـدر وړ څـه وجـود لـري کـوم چـي د دوی د ملـي ګټـو د پـاره اړيـن ګڼـل کيـږي. برطـانوي وګـړي نـه يـوازي د خپـل قـام او رهبـر سـره مخلـص دی بلکـې د خپلـي خـاوري او د خپـل قـام سـره پـه پيوسـتون بانـدي مضـبوط يقيـن لـري دوی د خپـل کـردار پـه ادا کولـو او پـه ملـي مقاصـدو ښـه آګـاه دي،هـم دغـه پوهـه او مکلـف ملـي کـردار د برطانيـه وګـړي د خپـل ملـي ارمـان د تـر لاسـه کولـو لپـاره هـري قربـانی تـه هـر وخـت تيـار سـاتلي دي هـم دا رنګـه کـه خلـګ د هټلـر نـازي ازم پـه حقلـه بـېلا بـېل نظرونـه لـري خـو د دوئ يعنـي د نازيـانو مېړانـې او سـر ښـندنې څخـه انکـار نـه شـي کېـدای .دوئ لـه لـوړ کـردار څخـه بـرخمن دي کـوم چـي د يـو ملـت پـه باعزمتـه قـام جوړېـدلو کښـې ځـانګړی رول لوبـوي.زه بيرتـه خپـل هغـه غبرګـون تکـراروم چـي زمـا لـه خبـرو بايـد دا معنـي نـه

واخستل شي چي مادي شتمني د يو ملت په قوي کېدو او هوسا کېدو کښې برخه نه لري زه په تکرار سره وايم چي مادي شتمني د يو ملت د قوي کېدو او هو سا ژوندون تېرولو لپاره زښته زيات ارزيښت لري .خو دا هم بايد په نظر کښې وساتل شي چي د دغو مادي وسائلو په ښه توګه په کار راوستلو او د ملت په ګټه تمامولو لپاره د ښه کردار څخه برخمن وګړي اړين دي ولي چي د يو ملت د بقا ضمانت يوازي د لوړ کردار درلودونکي وګړي ګرځېدلي شي.

شجاعت و بهادري د لوړکردار برخه ده.شجاعت دوه اړخه لري يو ظاهري وي او يو باطني.د دې باطني پهلو دا دی چي يو وګړي کښې و حقائق او نتائجو ته د مخامخ کېدو دومره حوصله وي چي د عزائمو يا ارادو پوره کولو کښې د بزدلۍ او کوتاهي رويه اختيار نه کړي چي کومه خبره حق ګڼي پر هغه مضبوط ودرېږي د څه پرواه نه کوي.ظاهري اړخ يه دادی چي د انسان شجاعت جوهرپه ډاګه رامخ ته سي دی د دشمن مقابله په مضبوط زړه وکي".

علامه اقبال دې خوا ته دا رنګه اشاره کوي،

"جب تک نہ زندگی کے حقائق پہ ہو نظر
تیرا زجاج ہو نہ سکے گا حریف سنگ
یہ زور دست وضربت کاری کا ہے مقام
میدان جنگ میں نہ طلب کر نوائے چنگ
خون دل وجگر سے ہے سرمایہ حیات
فطرت لہو ترنگ ہے غافل نہ جل ترنگ"(۱۱)

او خوشحال خان وائي:

"هم مهره لري هم زهر ښه مردان وي لکه مار
چي هم تندر هم باران تر هغو مردانو ځار" (۱۲)

## پايله:

د دې ټول بحث په نتيجه کي موږ دې پايلې ته رسيږو چي سائيں کمال خان د پښتنی ټولني يو داسي مفکر په ښه کي راڅرګندېږي چي هغه په کم عمري کي هغه پخې خبري کوي کوم چي نور ليکوالان د عمر د تجربې او زباني مطالعې پس کړي دي.د ده دا مضمون هغه وخت په انګرېزي کي ليکلي ؤ او بيا چاپ شوی و.د دې د تنقيدي جائزې

څخه دا ښکاره کیږي چې سائیں کمال خان د لوړ فکر څښتن و.د ده فکري ځلا زموږ د نن ځوان کهول ته رهنمائي ورکولای شي.ضرورت د دې خبرې دی چې د سائیں کمال خان شېراني داسې شیان رامنځ ته شي او بیا د هغه لیکوالانو د لیکونو سره موازنه شي څوک چې د رهنمائي هر څوک ناست دي دلته به موږ ته اندازه وسي چې سائیں کمال خان هم رهنمائي پر څوکی ناست دی خو موږ څخه هېر دی.

# حوالې


(۱) شېراني، کمال خان، .invidual character and national strength,خېبر محله، اسلاميه کالج پېښور، کال 1944 مياشت جنوري، مخ (21)

(۲) محمد اقبال، علامه ،کليات اقبال لاهور، عبدالله اکېډمي الکريم مارکېټ، اردو بازار لاهور ،کال 2017مخ بانگ درا (488)

(۳) شېراني، کمال خان، invidual character and national strength ،خېبر محله، اسلاميه کالج پېښور ،کال جنوري 1944 مخ (21)

(۴) محمد اقبال، علامه، کليات اقبال اردو، عبدالله اکېډمي الکريم مارکېټ اردو بازار لاهور کال 2017، مخ 489

(۵) شېراني، کمال خان، invidual character and national strength ،خېبر محله، اسلاميه کالج پېښور ،کال جنوري 1944

(۶) چشتي ،حبيب الله ،پروفېسر ،امت مسمله کا عروج و زوال، ضياء پبلي کېشنز لاهور، کال اپرېل 2005 ،مخ (10)

(۷) نذير مبشر، محمد ، *اپنی شخصيت اور کردار کي تعمير کيسے کي جائے* ، چاپ ځائے او چاپ کال نه لري. مخ 6

(۸) شېراني، کمال خان، invidual character and national strength ،خېبر محله، اسلامي کالج پېښور ،کال جنوري 1944

(۹) کاکړ، عبدالسلام، ملک، خوشحال خان د انصاف په تله لمر خپرونديه ټولنه کوټه، کال 2001، مخ 170

(۱۰) شېراني، کمال خان، invidual character and national strength ،خېبر محله، اسلاميه کالج پېښور ،کال جنوري 1944

(۱۱) محمد اقبال، علامه ،کليات اقبال لاهور، عبدالله اکېډمي الکريم مارکېټ، اردو بازار لاهور ،کال 2017 مخ بانگ درا (866)

(۱۲) کاکړ، عبدالسلام، ملک، خوشحال خان د انصاف په تله لمر خپرونديه ټولنه کوټه، کال 2011، مخ 171